مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد
+

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۹/۰۷

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
## پینځم توک
دوه سوه او شپږشپیتمه پرله پسي برخه

## کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

* **سپین بولدک**: ۱ – ۳۱، ۲۴ – ۶۶ «الف»: سپین بولدک د کندهار په ولایت کې د یوهٔ کلي او یوې ولسوالۍ نوم دی. دا ولسوالي ۴۳۹۱ کیلومتره مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وګړو شمیر د ۱۵۸۲۰ او ۲۳۶۷۵ تنو تر منځ اټکل کړی دی. دا ولسوالي په لویدیخ کې د شګې، په شمال کې د دامان او ارغسان او په سویل کې د ښوراوک له ولسوالۍ سره پوله لري. دا ولسوالي په ختیځ کې له پاکستان سره کړښه لري. د سپین بولدک ولسوالي تقریباً ۶۱ کلي لري چې ۱۰ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډیر وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| رباط | | جلال الدين | | Tarakzai | تـرَک زي | پټان خيل | |
| Kaziyan | قاضيان | Sambugha | سمبوغه | Sakam Khan | سَکَم خان | Samizai | سمي زي |
| Kessi | کيسي | Kanat -i -Sher Wa Daba (Qanat -i- Shiroba), | قنات شير و دابه «قنات شير اوبـهٔ» | ملا مير احمد | | قلعـهٔ کهنه | |
| داؤود شاه | | Kanjasu | قنجاسو | Kashi Wa Sarkarwala | کاشي و سرکاروالا | Kako Kahol | کاکو کهول |
| لنډی کاريز | | جمال الدين لوی کاريز | | عبدالله خان | | Gulozai | ګلو زي |
| Margiyan | مرګيان | Makaz Bidak | مکز بيدک | Mashinzai | مَشين زي | محمد خان | |
| Karaya -i-Khalgai | قريـهٔ خالګی | Karya -i-Spingai | قريـهٔ سپين ګـی | Wish | ويښ | مولوي روزي خان | |
| Mashingzai | مشنګ زي | Sar Kalizhi | سرکالي ژي | حاجي غلام نبي | | Paizai | پای زي |
| Karya -i-Wanga | قريـهٔ وانګه | قريـهٔ جوی ملا ولي | | Juri Jamalzai | جوري جمالزي | ريګي | |
| محمد افضل خان | | قريـهٔ محمد رفيق خان | | حاجي نور محمد خان | | آغا محمد | |
| حاجي محمد صديق | | Darbari | ډبـرئ | Manda Ghala | مانده غاله | Haji Kotan | حاجي کوتن |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Karya -i - Abdul Hak Khan Lahur (Abdul Haq) | قریـهٔ عبدالحق خان لاهور (عبدالحق) | Karya -i - Juba | قریـهٔ جوبه | Bayak - Jame ( Babak Sahib Kariz) | بایک جیم «بابک صاحب کاریز» | Karya -i- Salehzai | قریـهٔ صالح زي |
| Khozhobe | خوږ اوبـهٔ | Reg Pulzan | پُلزان ریگ | Safar Kanchi | صفار کانچي | Idrakzai | ایدرک زي |
| یارو کاریز | | Takht -i -Mir Senzai | تخت میر سنزي | اعظم زي | | Nimkakai | نیم کاکي |
| قریـهٔ باز محمد خان | | Basi Martani | باسي مرتاني | Shilai Lakali | شیلي لکالي | Mulhad | مُل حد |
| | | | | Kha | خـه | قریـهٔ بولدک | |

په ۱۹۱۴ز کال کې د سیمي د لا نورې شرحې لپاره وګورئ: بولدک

**سپینکي ښاهان**: ۳۹ – ۳۱، ۵۹ – ۶۷ «ن»: دا د «کشت آو» - غزني سړک پر غاړې د «کافر کلا» د سویل په ۴ مایلۍ کې د دمې نیولو ځای دی. دا ځای د ښاهانو بنې اوبـهٔ لري. «بن» *اوسنی نقشې د «سپین کی ښاه» نوم ښیي. په دې نوم یو بل کلی په ۳۲ – ۳۱، ۴۴ – ۶۷* «ن»

* **سپین کیچه**: ۶ – ۳۲، ۱۲ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ارغنداب د سیند او د یوې ښانګې د یو ځای کیدنې د ټکي د شمال په ۳ مایلۍ د همدې ښانګې پر غاړې یو کلی دی.

**سپین خاک**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د خاکریز په دره کې د شاه مقصود د غرنی لړۍ د سویل ختیځې ډډې په لمن کې یو کلی دی. «لینس» *په دې نوم یو کلی چې د سمندر له سطحې ئـې لوړوالی ۲۰۲۸ متره دی په ۷ – ۳۲، ۳۲ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*

**سپین تیګه**: [1] (سپینه تیږه ؟ – ژ) وګورئ: تازي

**سپین واری**: ۴۸ – ۳۱، ۲۳ – ۶۷ «ج»: دا د کویټې – غزني پر سړک دیارلسم منزل دی چې د معروف د کلا د شمال ختیځ په تقریباً ۲۰ مایلۍ کې موقعیت لري. زموږ د معلوماتو له مخې «سپین واری» د کوم زاړهٔ او لرغون ښار پاتې شوني او کنډوالې دي چې د ارغنداب د سیند پر کیڼې غاړې پاتې سوي دي. «آی. بي. سي.»

**سپیر سنګ**: ـ ۳۲، ـ ۶۷: دا د سرخ کوه «سور غرهٔ - ژ» په منځ کې یو کوتل دی چې د قلات غلزایي د شمال ختیځ په تقریباً ۱۹ مایلۍ کې واقع او د ترنک دره د ناوې له درې او د پورتني «ارغسان لوړه» برخې له یو بل سره نښلوي. د دې کوتل پلټنه کلیفرډ کړې ده، نوموړی له هغـهٔ سړک ښخه راواوښت چې له «پمبي» او دیوالک ښخه تر شاه جوی او غزني پورې د ترنک د سیند د کیڼې غاړې له لارې د «سُرخاهان» [2] او د «خاکه [3] د کمپ » د ځمکو تر منځ راغلی وو، او وئـې لیدل چې کوتل ته دوې لارې راغلې دي یوه لار د «ښادي کلا» د کلي له لارې او بله ئـې ۳/۴ د مایل وړاندې د شمال له لوري راغلې چې له لومړۍ یادې سوې لارې سره په نیمایي لارې کې یوځای کیږي. د ښادی د کلا لاره په دوه وو نورو لارو کې تر ټولو ښه او لنډه لاره ده چې د لړ کار په کولو سره د کوتل سر ته د ختلو لپاره عملي ګرځي او یو مایل واټن دی. کلیفرډ د کوتل له سره د «لوړه» د درې یوه ښکلې منظره تر لاسه کړه او په دې پوه سو چې تر هغـهٔ ځایه د کوزیدو

---

[1] - SPINTIGA
[2] - Surkhahan
[3] - Khakah camping-grounds


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

واټن که څه هم ډېر دی خو د ښادي له کلا څخه د ختلو په شان آسانه لاره ده. د «لوړه دره» د کوتل د خولې په مقابل لور کې واقع ده او بارکزي او «کیشیاني» [4] په کې استوګن دي؛ کیشیاني د توخي غلزیو یوه څانګه ده. «کلیفرډ، آی. بي. سي.»

**سپيڅو غر**: [5]: ۱۰ – ۳۲، ۱۸ – ۶۷: دا د غرونو یوه کوچنۍ لړۍ ده چې له شمال لویدیځ لوري د «تره کي تیورۍ» پر کلیو باندې مسلطه ده. دا لړۍ د «سور غر» [6] په نوم هم ځکه یادیږي چې سور بخون رنګ لري. *اوسنی نقشې د «سور غر» نوم نبیي.*

**سره غورګې**: ـ۳۲، ـ ۶۸: دا د «سروند» [7] د غرنۍ لړۍ په ختیځې خوا کې له «دوماندي» [8] څخه ۷۰ مایله لیرې د دوماندي – غزني پر سړک یو ځای دی. دلته سون توکي، او د اوښانو د څرلو ځایونه پریمانه دي. «بومي سروې کوونکې، ۱۹۰۴»

**سره پینکی**: ـ ۳۱، ـ ۶۷: دا د «سم ناري» [9] د غرونو په شمال ختیځ کې د ۶ مایلو په ۴ مایلو په لوی والي یوه دښته ده. له پسين ډاګ څخه یوه لاره او بله لاره له خجیر څخه دې دښتې کې له یو بل سره مخامخ کیږي او دواړه یو ځای له دې دښتې څخه د کندهار پر لور مخ په شمال لویدیځ تیریږي. «بن»

* **سرهٔ څاهان**: ۳۲ – ۳۰، ۱۶ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ښوراوک په ولسوالی کې د «دامان دشت» [10] په ختیځ کې او افغان سرحد ته نیږدې یوه کلی دی.

**ستاغي کوتل**: لوړوالی: ۵۰۰۰ فیټه. دا د دوماندي – غزني سړک په اوږدو کې د ګومل د درې له ختیځ څخه تقریباً ۵ مایله لیرې یو کوتل دی. «آی.بي. سي. ۱۹۰۴» *یو مایل وړاندې د اوبو یوه ژرنده ده او دلته واښهٔ پریمانه دي.*

**ستورياني**: ۳۳ – ۳۱، ۴۰ – ۶۷ «ن»: دا عطاء محمد کلا ته نیږدې د کند په شمال کې یوه کوچنۍ دښته ده. «بن»

**ستورانیسه ؟**: [11]: دا له کندهار ۱۰۰ مایله لیرې د «راهٔ معروف» پر غاړه یو کلی دی. دلته هیڅ کرهنه نـهٔ ده سوې. دلته اوبـهٔ له څاهانو څخه ترلاسه کیږي. دا کلی د توخي غلزیو دی. «لمسدن»

مهم یاد دښت: کیدای سي دا هماغه ستورياني وي.

**صوف/ سوپ**: ۳۵ – ۳۱، ۳۷ – ۶۵: دا یو کلی دی چې بلافاصله د زاړهٔ کندهار د غرهٔ تر شمالي اړخ لاندې، د میر بازار له سویل څخه ۱ مایل د «نـــو شي جان» نهر ته نیږدې واقع دی. «بیسکو»

**صوفیان**: ۳۲ – ۳۱، ۲۰ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د بلوڅانو د سویل په تقریباً ۲ مایلی کې د کندهار – ګرشک د سړک تر غاړې او د ارغنداب د سیند تر منځ یو کلی دی.

**سلیمان**: وګورئ: سلیمان

[4] - Kishiani

[5] - SPI TSO GHAR: ددې نامهٔ مخې ته ئې په عربي الفباء «سپي څو غار» لیکلي دي حال دا چې زما ژباړونکي په باور باید د «سپیڅو غر» یا د «سپیڅلو غر» وي. د «غار» په هکله باید ووایم چې هرچا چې له لودویک آدمک سره په عربي الفباء د جغرافیوي نومونو په لیکنه کې مرسته کړې څرګنده ده چې له انګلیسي ژبې سره ډیر بلد نـهٔ وو. دلته او ددې کتاب په هر توک کې ئـې «غر» د «غار» په ډول لیکلی دی. په متن کې دننه محتوی د یوې غرنۍ لړۍ په هکله ده نه د کوم غار یا سمڅې په هکله.

[6] - Sur Ghar

[7] - Sarwand Range

[8] - Domandi

[9] - Sam Narai hills

[10] - Daman Dasht

[11] - STURANISA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

* **سلیمان آباد**: ۱۴ – ۳۳، ۳۵ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «ورخان» د شمال په ۴ مایلۍ کې او د کجران د لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **سلیمان کلی**: ۵۸ – ۳۰، ۲۴ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې افغان سرحد ته نیږدې د سپین بولدک د سویل ختیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

**سلیمان خیل**: وګورئ: شپږم ټوک

**سلیمان زي**: دا د اڅکزیو یوه څانګه ده. ویل سوي چې سلیمان زي د نصرت د زوی، سلیمان له پښته دي. دا ډله د آرامو خلکو څانګړتیا لري چې بې آزاره خلک دي او د لوټماری او خشونت او تشد د کومه څانګړتیا نـهٔ لري. «میتلند، کلیفرډ» *په دې نوم کلي په ۲۰ – ۳۳، ۳۳ – ۶۸ «ج»، په ۱۱ – ۳۱، ۲۷ – ۶۶ «ن»، ۳۰-۳۲، ۵۸ – ۶۶ «ن» او ۲۵-۳۱، ۴ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.*

**سلطان**: ۵۱ – ۳۱، ۵۰ – ۵۵ «ج»: دا یو کلی دی چې څه دباندې ۸۰ کورونه لري او د خشکِ رود پر ښی غاړه له ارغسان سره د یو ځای کیدني له ټکي څخه تقریباً ۳۸ مایله لیرې واقع دی. «ایلیس ۱۸۸۰ز کال»

**سلطان محـمد**: ۲۵ – ۳۱، ۳۷ – ۶۵ «ج»: دا د ډوری ښی غاړې ته نیږدې په هغـهٔ ځای کې یو کوچنی کلی دی چې د شمشیر له کاریزه په ۲۹ مایل کې سړک، دغـهٔ کلي ته راځي او له غندِ منصور څخه تیریږي. دا کلی په هغـې سیمې کې واقع دی چې دا سیمه ژور کاریزونه په خپلو په اوبو خړوبوي؛ کلیو ته نیږدې د سیند له سر څخه یو پل تیر سوی دی، دا سیمه د اکتوبر د میاشتې په پای کې د ګازرو او غنمو پیتو پوښلې وه چې سیند ته نیږدې ئـې د مالګې سطحوحات او غوچوړې درلودل. د سیند بستر معمولاً ۱۵۰ یارډه پراخ وي او د اوبو یو کانال لري، په پورته یادې سوې نیټې کې سیند ۳۰ یا ۴۰ فیټه پراخ وو او د اوبو ژوروالی ئـې ۲ یا ۳ فیټه وو. په بلې غاړې کې لویدیځ لور ته د بارکزیو د ژمي استوګنځی دی چې د «توره باز» په نامـهٔ یادیږي او د ریګستان پر ژۍ موقعیت لري. «هنل»

**سلطان محـمد**: ۵۹ – ۳۱، ۵۸ – ۶۶ «ج»: دا یو لوی کلی او د کمپ وهلو د سیمې نوم دی چې له اکرم خانه ۵ مایله ورهاخوا او له قلات غلزایي څخه ۱۳ مایله لیرې د ارغسان درې ته د تللي سړک پر ښی غاړې موقعیت لري. د کمپ سیمه ډیره ښه سیمه ده، دا کلی د پام وړ اندازې بهوسه او غلات لري او لږ اوړه «اټا» هم ورڅخه هغـهٔ برتانوي ځواک تر لاسه کړل چې د ۱۸۷۹ز کال د جنوری په میاشت کې د خشک رود درې ته د یوهٔ کشفي مأموریت لپاره تللی وو. د راپور له مخې دلته ډیرې ښې اوبـهٔ او هم د اوښانو لپاره ښـهٔ څرځایونه سته. «آی. بي. سي» *په دې نوم یو بل کلی په ۴۸ – ۳۱، ۴۷ – ۶۶ «ج» کې او یو زیارت په ۶ – ۳۱، ۱۶ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

**سلطان نیکـهٔ زیارت**: ۱۷ – ۳۱، ۱۱ – ۶۷ «ن»: لوړوالی: ۶۵۵۰ فیټه. دا د «کـُندَر» [12] – تیورې پر سړک د «زیږې» [13] پر کیني غاړې له «سپول لوړه» [14] څخه ۵ مایله پورته، د دمې نیولو یو ځای دی. دا ځای د «پوونده» [15] قبیلې لپاره د

12 - Kundar
13 - Zizha
14 - Spole Lora
15 - powindah


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

کيږديو د درولو د خوښي ځای دی؛ زيارت ته ډير زايرين راځي. دا ځای د «سلطان سپري» [16] په نوم هم شهرت لري.
«بن»

**سلطان سپري:** وګورئ: پورتنی مقاله

**سلطان ويس:** ۳۷ – ۳۱، ۳۹ – ۶۵: دا د کندهار له لويديځ څخه تقريباً ۲ مايله ليرې د کليو په يوې ټولګي کې د زيارت کولو يو ځای دی، د کليو دا ټولګه د «دِهٔ محسس» [17] په نوم ياديږي. دلته د «سماق له توري ډبرې» جوړه يوه عجيبه کاسه ده چې په عربي ليکدود طومار پوښلي ده. بومي خلک د دې کاسي د تأريخ په هکله هيڅ نـهٔ پوهيږي خو بيلو وايي چې د دهٔ په اند دا به د «فو» يا د «بُدهـ» [18] پيل وي. [د «فو» يا «بدهـ» نوم د ډيرې توضيح وړ دی او ما ژباړونکي ورته کومه توضيح ونـهٔ موندله] «بيلو»

**سوموچک:** «سمچک – ژ»: ۵۰ – ۳۳، ۲ – ۶۷ «ن»: دا د هلمند د سيند د سويل په يو مايلی کې د روزګان په ولايت کې د آهنګران د لويديځ په ۶ مايلي يو کلی دی.

**سندرلي:** ۳۴ – ۳۱، ۳۱ – ۶۶: دا هغه کلي دی چې نوم ئـې په ۱۸۷۹ز کال کې د فبروری په مياشت کې له قلات غلزايي څخه د يوهٔ کشفي ځواک د کتار د مارش په رسمي راپور کې راغلی دی. دا کلی د ارغنداب د سيند پر ښی غاړه له هغـهٔ ټکي پورته واقع دی چې خشک رود د ارغنداب له سيند سره يو ځای کيږي. د نور محمد تر کلا پورې واټن د سړک له لارې ۷ مايله دی او د سيند د بهيدلو په اوږدوالـهٔ کې کښته د ترنک په درې کې تر مرغانکېچي پورې ۳۶ مايله دی. په سندرلي کې ۱۲۰ سخوندر و پيرودل سول، د کلي له موقعيت څخه ويلای سو چې دا کلی بايد د سندرزيو د کليو له ډلې څخه وي. «آی. بي. سي.»

**سندرزي**: ۳۴ – ۳۱، ۳۱ – ۶۶ «ج»: دا د ۱۹ کليو يوه ډله ده چې ټولټال له ۲۵۰ تر ۳۰۰ پورې کورونه لري، د يو شمير کليو له څنګه هغه سړک تيريږي چې د قلات غلزايي پر لور د امين کلا او سربلند تر منځ د ارغسان پر درې منتهي کيږي. د دغو کليو له منځه يوازې يو کلی ئـې د ارغسان په کيڼي غاړې کې دی، ۹ کلي ئـې د خشک رود او ارغسان د سيندونو د يو ځای کيدني له ټکي پورته په ښی غاړه کې واقع دي او پاتې نور ۹ کلي ئـې د خشک رود په درې کې دي. د دغو کليو استوګن وګړي ټول بارکزي دي ؛ له دغو کليو څخه د اړتيا وړ زښت ډير توکي تر لاسه کيدای سي. د دې ډلې له کليو څخه چې له لومړني کلي سره مخامخ کيږئ له عمر څخه د سيند د بهيدا په مخالف لوري کې ۲۹ مايله ليرې يو دی چې د امين له کلا ۲۹ مايله ليرې دی. مسي وايي چې د امين له کلا څخه د سندرزيو تر کليو پورې لاره ډيره ناهمواره ده او د عرابو لرونکو وسايطو د تګ لپاره د مساعده کيدلو لپاره يو څه کار ته اړتيا لري خو دا لاره د سربلند پر لور نسبتاً ښه ده. د سندرزيو په مخالف لور کې د ارغسان د سيند په کيڼي غاړې کې د اُتمانزيو او «بکال زيو» [19] کلي دي.
«کليفرډ، مسي. آي. بي. سي.»

**سور آغه ګان:** دا د بلوڅو پر سرحد د ۳۴ خاصه دارانو يوه پوسته ده. «آی. بي. سي، ۱۹۰۴»

---

16 - Sultan Saparai
17 - Deh Muhassis
18 - Fo or Budh
19 - Utmanzai and Bakalzai


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

* **سوری**: ۱۸ ـــ ۳۲، ۳۵ ـــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار د ولایت په شمال کې د نېش په سویل کې او د شین غر په شمال کې یو کلی دی.

* **سورگل تهانـه**: ۴۳- ۳۱، ۵۲ ـــ ۶۷ «ن»: دا د افغان سرحد او کند د سیند د شمال په تقریباً ۸ مایلی کې په «سورگل منتاکه» [20] کې د پولیسو یوه پوسته.

**سور کاني**: دا د الکوزي درانیانو یوه فرعي څانگه ده. په دې نوم یو کلی د لوړه د سیند پر غاړې په ۴۳ ـــ ۳۱، ۵۵ ـــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.

**سور کاریز**: ۵۲ ـــ ۳۲، ۱۲ ـــ ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولایت کې د روزگان د کلي ختیځ ته د راغلي لارې پر غاړې، د چورې د ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلی کې یو کلی دی.

**سرخاب**: ۳۴ ـــ ۳۱، ۲۷ ـــ ۶۷ «ن»: دا یو سیند دی چې د سلیمان د غرنی لړی په لویدیځ کې راپورته کېږي او له پوتي څو مایله کوز له کدني سره یو ځای کیږي. دا یوازې یوه غرنی سیند دی چې د دنگو غرونو تر منځ محصور دی او له کویټي تر غزني پورې مستقیم سړک ورڅخه تیریږي، د سیند دغه ټکی چې سړک ورڅخه تیریږي له کویټي څخه ۱۲۰ مایله لیرې دی. له دې سیند څخه راه معروف د معروف له گودر څخه ۱۸ مایله لیرې تیریږي. «کمپبل»

داسې ښکاري چې سرخاب دې د "کند" تر سرلیک لاندې شرحه سوی وي چې له کدني سره نـهٔ بلکه له ارغسان سره یو ځای کیږي. *په دې نوم نور کلي په ۳۹ ـــ ۳۱، ۲۶ ـــ ۶۷ «ن» او ۴۴ ـــ ۳۱، ۳۶ ـــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

**سرخ آبه**: وگورئ: سوخته

**سرخاب منده**: سرخاب مانده: دا یو سیند دی چې د کښوبي «خوړې اوبـهٔ» پر لور بهیږي. «کمپبل» کیدای سي دا همغه مِل مانده وي.

**سرخ آهن**: ۱۴ ـــ ۳۲، ۱۲- ۶۷ «ج»: دا د کلیو یو ډله ده چې له دیوالک ۹ مایله ورهاخوا د هغـهٔ سړک پر غاړې واقع دي چې د خشک د درې او د ترنک د سیند د کیڼې غاړې له لارې تر غزني پورې تللی دی. دغو کلیو کې د «لودین» [21] د قبیلې وگړي ژوند کوي او ټول په گډه د «کُرَم» [22] په نوم یادیږي. د جنرال بارتر غنډ دلته د ۱۸۸۰ز کال د اپریل د میاشتې پر نهمې نیټې دمه وکړه او اړتیا وړ توکو پریمانه اندازه ئـې تر لاسه کړه. «لینس، کلیفرډ»

**سرخاني**: ۵۱ ـــ ۳۱، ۲۵ ـــ ۶۵ «ن»: دا په خاکریز کې یو ډیر کوچنی کلی دی چې د «تنگلي» د کوتل په خولـهٔ یا مدخل کې واقع دی. د دې کلي د اوبو سرچینه څرگنده نـهٔ ده. «لینس» *اوسنی نقشي دا نوم د « سوري کاني» [23] په ډول ښیي.*

**سرخ بیدک**: ـــ ۳۱، ـــ ۶۵: دا د خاکریز په درې کې یو کلی دی. «لینس» *په دې نوم یو کلی په ۱۵ ـــ ۳۲، ۱۳ ـــ ۶۶ «ن» کې واقع دی.*

---

20 - Surgul Mantaka
21 - Loedin
22 - Kuram
23 - Sur -i -Kani


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

* **سرخ بيد**: ۵۹ ــ ۳۱، ۱۰ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «کوهٔ شاه مقصود» [24] په شمال لویدیځ او د غورک په سویل کې یو کلی دی. په دې نوم بل کلی د «فاصل» [25] د سویل په تقریباً ۱۲ مایلۍ کې او د «اور دوبولاغ» [26] په شمال لویدیځ کې په ۲۳ ــ ۳۲، ۳ ــ ۶۶ «ن» واقع دی.

* **سرخ بیني**: ۸ ــ ۳۳، ۴۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «دهانِ سنګور» [27] د سویل په تقریباً ۱ مایلۍ کې او په «ناوهٔ سلطان محمد» [28] کې یو کلی دی.

**سرخ جوی**: ۴۵ ــ ۳۲، ۱ ــ ۶۷ «ن»: دا د «هواري» [29] په سیمې کې د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پر غاړې، د زابل ولایت په شمال کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د «سهناور» [30] د سویل ختیځ په ۴ مایلۍ کې په ۱۰ ــ ۳۴، ۴۸ ــ ۶۵ «ن» کې موقعیت لري.

**سرخ کوه**: سور غر: [31]: ۱۰ ــ ۳۲، ۱۸ ــ ۶۷ «ن»: دا یوه غرنۍ لړۍ ده چې له شمال ختیځ څخه مخ پر سویل لویدیځ پر مخ ځغلي او په سویل ختیځ کې د ترنک د درې حد جوړوي، د قلات غلزایي په سویل ختیځ کې د آبِ ایستاده د جهیل جغرافیوي عرض البلد کې واقع دی. په دې لړۍ کې کوتلونه دا دي: «ګیرداني»، «سپیر سنګ»، «تنګی»، «روګاني» او «پُرشي» [32] «آی.بي. سي»

* **سرخلیز**: ۴۱ ــ ۳۲، ۲ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې «مر آباد» [33] ته نیږدې د تیرین د سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **سرخ مرغاب**: ۴۲ ــ ۳۲، ۵۵ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د کمیسان د سیند او د تیرین د سیند د یو ځای کیدنې د ټکي د شمال په تقریباً ۶ مایلۍ کې د کمیسان د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**سرخ سنګ**: ۵۰ ــ ۳۲، ۴۹ ــ ۶۶ «ن»: دا روزګان په ولایت کې د روزګان کلي ته نیږدې د «چکه» د سویل ختیځ په تقریباً ۱ مایلۍ کې د هغهٔ سیند پرغاړې یو کلی دی چې په شمال لویدیځ کې د تیرین سیند ته ورغورځي.

**سوروغ**: ۱۳ ــ ۳۲، ۴ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «باریکي» د شمال په تقریباً ۱ مایلۍ کې د «سپین غرهٔ» [34] په ختیځ کې د یوهٔ سیند پرغاړې یو کلی دی.

* **سور وام**: ۳۵ ــ ۳۱، ۱۲ ــ ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د معروف د سیند او د «کوټکي غر» [35] تر منځ تقریباً نیمایي لاره کې یو کلی دی.

---

24 - Koh -i -Shah Maksud
25 - Fasil
26 - Or Dobolagh
27 - Dahan -i- Sangur
28 - Nawa -i- Sultan Muhammad
29 - Hawari
30 - Sehnawar
31 - SURKH KOH Or SUR GHAR: بیا هم د نورو ځایونو په شان په عربي الفباء ئې «سور غار» لیکلی دی حال دا چې دا «سور غر» دی. - ژ
32 - Girdanai, Spir Sang, Tangai, Rogani, and Purshi
33 - Marabad
34 - Spin Ghar
35 - Kotkai Ghar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**سور ځنګل**: ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا یوه دښته ده چې ۱۱ مایله اوږد والی او ۵ مایله پراخوالی لري او د اینځلان د نالي او د لوړ کند د سیند په ختیځ کې واقع ده او له شماله تري د اینځلان غرنی لړی راتاو ده. دې دښتې کې د سورځنګل او د اینځلان د نالو اوبـهٔ راټولیږي، دا دواړه نالي د «ملتانا» [36] د شمال په ۳ مایلی کې له یو بل سره یو ځای کیږي او دواړه د کند سیند جوړوي. دا دښته شګلنه ده او بوټو پوښلې ده خو له شګلنتوب سره سره بیاهم د مالګر لپاره ښـهٔ څر ځای دی، له همدې کبله ده چې د ژوب کاکړان د دوبي په میاشتو کې دلته راځي. اوبـهٔ دلته ځکه په قلت کې دي چې د سورځنګل ناله معمولاً وچه وي. «بن»

**سوزه**: ۳۳ ــ ۳۲، ۳۱ ــ ۶۷ «ج»: دا د شاه جوی د شمال لویدیځ په تقریباً ۷ مایلی کې د توخي غلزیو یو کلی دی. «آی. بي. سي، ۱۸۸۰»

**تباسر**: ــ۳۱، ــ ۶۵: دا شاه مقصود په غرنی لړی کې د دې غرنی لړی سویل لویدیځ پای ته نیږدې یوه له اساسي غرنیو څوکو څخه ده. «لینس»

**تابین**: ۴۰ ــ ۳۱، ۳۹ ــ ۶۵ «ج»: دا په قریه جاتو کې یو کلی دی چې د ارغنداب د سیند پر ښی غاړې د «چهار قلبې» په شمال کې او د «مزره» [37] په مقابل کې واقع دی؛ دا کلی دوې ژرندې لري. «ببیسکو»

## نور بیا

## تګک:..

**یادونه**: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمری ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

36 - Multana

37 - Mazra



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ